مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغانی

۲۰۱۸/۰۹/۰۴

# ورځ تر بله

ورځ تر بله خرابيږي دا وطن
په نفاق کې نه جوړيږي داوطن

د بې رحمه او مکار دښمن دلاسه
هره خوا په اور سوزيږي دا وطن

په قومونو او خيلونو يو بيل شوی
جنګ،جګړوسره ورانيږي دا وطن

د دالرو او کالداروپه حساب کې
په پردو باندې خرڅيږي دا وطن

په هر لوري بې وسي ده مايوسي ده
تول په وينو کې لمبيږي دا وطن

د وطن توله هستي يې رانه لوت کړه
کار زحمت باندې جوړيږي دا وطن

لا ترڅو به مونږ په خپلو کې جنګيږو
ځان ،ځاني کې تباه کيږي دا وطن

افغاني مينه، احساس که مو نصيب شي
سر منزل ته به رسيږی دا وطن

-------------------------------

سمیع الدین افغانی
۴ -۹ –۲۰۱۸
کال. م



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ